مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲/۱۰/۲۰

# هلمند، اور او ويني

## د هلمند د جګړې يو دردونکی انځور

پرون چې د هلمند د جنګځپلي حالت د انځورولو په باب ما ته د استاد سيستاني په برکت يو غږيز شعر رارسېدلی و، ما په ليکلي بڼه واراوه، د خپل زړه خبرې مې هم د سريزې په ډول ور اضافه کړې او په ټاند ويبپاڼه او افغان جرمن پورټال کې مې انلاين کړ؛ خو نن بيا هم د استاد سيستاني د دايمي مهربانيو په لړ کې د ښاغلي قيس هاشمی د ياد شعر اصل متن راته راولېږل شو. د اوديو په اورېدلو کې چې ما کومې تېروتنې کړې وې، هغه مې د نوي متن له مخې ورسمي کړې او د شاعر نوم (قيس هاشمی) هم ور اضافه شو.

کوم متن چې ما د اوديو له مخې ليکلی و، د شعر پای بند په نوي متن کې نه شته، خو زه يې د خپلې مقالې په پای کې هماغسې ځکه پرېږدم چې په هغه بند کې هم د هلمند روانه غميزه په هنرمندانه ډول انځور شوې ده.

دلته يې اړينه ګڼم چې له ښاغلي قيس هاشمی نه مننه وکړم چې د هلمند په وينو لړلی حالت يې په هنرمندانه ډول انځور کړی دی او په ليکلي بڼه يې خپل شعر راولېږه.

او په پای کې له استاد سيستاني څخه مننه کوم چې تل د وطن په هر غم کې ځان شريک ګڼي او د ځوان نسل د تشويق له پاره تل مهرباني کوي.

پوهندوی آصف بهاند

ځو ورځې کېږي چې بيا د هلمند او هلمنديانو روح، روان، غوښې او هډوکي د جګړې په اور کې سوځي. دا چې څه شوي او څه کېږي، يوازې هغه بېدفاع خلک پرې پوهېږي چې د جګړې په اورنی دايره کې راګير دي. د جګړې موخه معلومه ده، خو مسؤليت يې ځکه څوک نه مني چې د جګړې ټول ښکېل لوري ځان حق په جانبه ګڼي.

**«مځکه هغه سوځي، چې اور پرې بل دی.»**

يو شمېر خلک بېغمباشه دي، ورته ګوري، خو هيڅ هم نه کوي؛ اما يو شمېر خلک په هر ځای کې چې وي، سم دم ځان د جګړې په اور کې حاضر ګڼي، پر خپل وجود يې لمسوي او په هره لمبه ځان سوځېدلی احساسوي او په هرې مرمۍ باندې ځان سوری ګڼي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

د همدي بااحساسو له ډلې نه يو ځوان شاعر قيس هاشمی د شعر په ژبه د سوي لويي هلمند حال او د وژل شوو، سوځېدلو او ټپي، ټپي شويو هلمنديانو حال بيان کړی دی، داسي چي هر با احساسه افغان يې د خپل زړه غږ ګڼي او په اوريدلو او لوستلو سره يې د سترګو انګړ نمجن کېږي.

په پښتو شعر کي يو وخت د بزم مجلسونه تاوده و، خو دا ډېر کلونه کېږي چي د رزم ډګر په کي تر اور هم تود شوی دی. څومره چي د جګړي اور تېزېږي، لمبې يې جګېږي او خلک په کي وريتېږي؛ هغومره د پښتو رزمي شعر غږ هم اوچتېږي، غلبلي کوي او اوس دې برید ته رسېدلی دی چي ويني ور نه څاخي.

دلته چي کوم شعر باندي خبري کېږي او درنو لوستونکو ته وړاندي کېږي، په ريښتيا د اور او وينو شعر دی چي له هربيت او له هر توري نه يې ويني څاخي او فريادونه ترې جګېږي.

نن مي د لنډيو د مقالو پر دوه څلوېښتمه برخه باندي کار کاوه او د راټولو کړو لنډيو پر بيا کتنه بوخت وم چي دا لنډۍ مي هم په کي وليده:

**موري پښتون ته مي ورنکړې**
**جګړه د بل وي، سر به دی پري ورکوينه**

د پښتون لالا ژوند ته چورت وړی وم چي تر څو به دی د ناپوهی په ځنګله کي ورک وي او د نيابتي جګړي له پاره به د خپلو اندامونو نه سونتوکي جوړوي؛ تليفون مي په يو ځانګړي زېګنال سره ور وبللم، که ګورم چي مسنجر کي استاد اعظم سيستاني يو غږيز پيام رالېږلی دی. ورته تلوسه مي شوه، چي ورغلم ګورم چي د بل چا په غږ کي د هلمند د جګړي په باب يو شعر دی. شعر پنځه دقيقي او ديارلس ثانيي و، وامي وريده، په ريښتيا چي وژړولم. استاد سيستاني ته مي زنګ وواهه، څو شېبي مو پر شعر او جګړي خبري وکړې، استاد مهرباني وکړه د هغه چا د فيسبوک پته يې راکړه چي دا غږيز پيام يې ده ته استولی و، خوهلته هم ما د شعر ليکلي بڼه تر لاسه نه کړه؛ نو مجبوراً ورته کېناستم او ټول مي وليکه.

په هغي اوډيو کي چي تر ما پوري رارسېدلي ده، همدومره څه په کي وو چي ما وليکل. په اغلب ګومان چي دا شعر د کومي راډيو د خپرونو نه ثبت شوی او په غږيز ډول په ټولنيزو شبکو کي اېښودل شوی دی. د ويونکي له خبرو داسي ښکاري چي نور شعرونه هم د وړاندي کولو له پاره شته چي دوي به يې وړاندي کړي.

د شعر له هر بيت او هر توري نه ويني، درد او اوښکي څاخي. د شاعر په باب څه نه دي ويل شوي، وروسته پته ولګېده چي شاعر يې قيس هاشمی نومېږي. ما دومره وکولای شول چي شعر له غږيزی بڼي په ليکنی بڼه واړوم، د خپل زړه خبري او څو جملي ورسره مل کړم او تر لوستونکو پوري يې ورسوم.

خو په شعر کي ليدل کېږي چي شاعر داسي لوړه روحيه لري چي له دومره اورونو، وينو او مرګونو سره ـ سره، بيا هم نوي ژوند ته اميد لري. د شعر دا لنډه برخه ولولئ:

د جګړې زور بـه تمام شي
د هـر چا بـه ورتـه پام شي

وچ فصلـونه به يې شنه شي
د غلـې بـه بـيا ګـــودام شي

د بريښنا بند به يې جوړ شي
پـري رڼا بـه تور ماښام شي

هـر وګـړی يـې بـيا ګوره
چـــي لايـــق د احتــرام شي

پـــه تـعليم پسي بــه پـاڅي
ور روان به يې هر قـام شي
د هـلـمـند، د هلمند، د هلمند



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

دغه راز د جګړې په سره اور کې هم د شاعر مینه هېره نه ده. پخوا به یو مین خپلې محبوبې ته ویل:

**ستا د ښایست ګلونه ډېر دي**
**ځولۍ مې تنګه زه به کوم یو ټولومه**

خو اوس باید  ووایي چې:

**د بد مرغۍ اړخونه ډېر دي**
**زړه مې نازک دی، زه به کوم ته وژاړمه**

خو دلته شاعر مینه له جګړې، اور او وینو سره غوټه کړې ده.  او خپلې ملګرې ته په خطاب کې وایي چې:

ستاسو خــوا تـــه درنـــړدې دی کلیوالي
جنـګ پــر کــومـي عـلاقــې دی کلیـوالي

لالاګـان بـه دې خـدای وساتـي لـه مرګه
ژاړه مــه مـرګ پـه وعـدې دی کلـیـوالي

مرمۍ اوري، خامک مه کوه په سرای کې
کـلي خـنـګ تــه د پــوستـې دی کلیوالي

پــه اوبــو پسـې ونــوزې لـــه کـــوره
مـین تـــږلـــی پـــه بـمـبـې دی کلیوالي

پـام چې ښار ته ښېرا ونــکړې نـــاداني
ستا د قیس دوی کـور په کې دی کلیوالي

دا هم د شعر بشپړ متن:

## جانان هلمند ته یو نظم

ته د دې خپل ولس په ژوند باندي خبر یې که نه؟
بـــلا دې واخلـم پــه هـلمند باندې خبر یې که نه

تـــوره شپــه ده، تـــوره شپه ده،
لښکـــرګــــــاه خـواره ړنده ده

ګرشک مې ژاړي، نوزاد سوی
د سـنـــګـیـــن یې جـنـــازه ده


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د دیشو یې زنکدن دی
خواره شوې یې ناوه ده

ناد علی په وینو سور دی
زاره ترکې یې مرجه ده

کجکی یې په غم ناست دی
په هر کونج کې یې جګړه ده
د هلمند، د هلمند، د هلمند

*****

د زړه سوي موسی کلا ده
د بغني کمبخت ژړا ده

د واشېر زاره چاودلې
د بغران د زړه درزا ده

ګرمسیر بلا خوړلی
خانشین ته یې سودا ده

د زړه سوی دی ترینه ورکه
سوله، سوله شالیلا ده

موده وشوه پر ځای پروت دی
ماته کړې یی نفاق ملا ده
د هلمند، د هلمند، د هلمند

*****

ورک په ده کې بد او ښه دي
دا څه حال دی دا اوس څه دي

د باروتو تور لوګي یې
پر شنو ونو را خواره دي

مسجدونه شهیدان دي
ښوونځي خراب پراته دي

ځي بل ملک ته یې روانې
مروري یې اوبه دي

کاینات تموله خپه دي
بېګناه وګړي مړه دي
د هلمند، د هلمند، د هلمند

*****

دا اوس څه د غم پېړۍ ده


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پــه ســلا ورتــه نـــــړی ده

بُست یـــي وژني پــه مـرمو يي
د تـــاريــخ پـــانـــه سوری ده

پـــه لـــېـــوانـــو کي يي ګېره
د کــولــتــور خـواره هوسی ده

تــرخــيــزي اوړده لــمــن يي
اوس زړه ريبنکی، ريبنگی ده

لـه سپېرو خـاورو يـي لاندي
د سر تــاج د سر بـګـړی ده
د هـلـمـنـد، د هـلـمـنـد، د هلمند

*****

د جـګـړي زور بــه تـمام شي
د هــر چا بــه ورتــه پـام شي

وچ فـصـلـونه به يي شنه شي
د غـلـي بــه بـيـا ګـــودام شي

د بـريښنا بند به يي جوړ شي
پــري رڼا بــه تور ماښام شي

هــر وګــړی يــي بـيـا ګوره
چـــي لايــق د احـتــرام شي

پـــه تـعـلـيم پسي بــه پـاڅي
ور روان به يي هر قـام شي
د هـلـمـنـد، د هلمند، د هـلـمـند

12/12/1393
هلمند لښکرګاه
قيس هاشمی

*****

ستاسو خـوا تـــه در نـــړدي دی کليوالي
جـنـګ پــر کـومـي عـلاقــي دی کـلـيـوالي

لالاګــان بـه دي خــدای وساتـي لــه مرګه
ژاړه مــه مـرګ پــه وعـدي دی کـلـيـوالي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

مرمۍ اوري، خامک مه کوه په سرای کې
کــلی ښــنــګ تــه د پـــوسـتـې دی کليوالې

پــه اوبــو پـسـې ونــوزې لـــه کـــــوره
مـين تـــړلـــی پـــه بـمـبـې دی کليوالې

پــام چې ښار ته ښېـرا ونـــکړې نـــادانې
ستا د قـيس دوی کــور په کې دی کليوالې




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ